مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سمیع الدین افغاني
۲۰۱۹/۰۸/۱۸

# وطن جوړيږي

که وي پــوهه، تعقل، وطن جوړيږي
چې وي يـو د بل منل، وطن جوړيږي

څو به خپلو کې مونږ لاس او ګريوان يو
د وروری لاس ورکول، وطن جوړيږي

د زور واک، چپاولګرو چې هستي ده
بيت المال ته يې سپارل، وطن جوړيږي

که پرون په زړه د تورو کاڼو غر وه
اوس يې سم دريځ نيول، وطن جوړيږي

تر څو نشو په خپل مينځ کې کور او کلي
درناوی کــول د بــل، وطن جـوړيـږي

ډير بيرحمه او مکاره مـو دښمن دی
ورته يو موټي کيدل، وطن جـوړيږي

ښه موقعه او ښه فرصت د زمانې دی
ځوان کهول پکارګمارل، وطن جوړيږي

سمه طرحه بــرنامه ورته پکار ده
يو معقول دريځ منل، وطن جوړيږي

د پردي مټ تــه هيڅکله تمه نشته
افغاني احساس لـرل، وطن جوړيږي

سميع الدين افغاني
۱۰ ــ ۸ ــ ۲۰۱۹
م ۰ کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ